# لا هم په مخکی اوږده پرته لار:
# په افغانستان کی د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع
# د قانون تطبیق

## د راپور لنډیز او سپارښتنې

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندویه پلاوی

**کابل – افغانستان**

**دسمبر، ۲۰۱۲**

## صلاحیتونه

د ملګرو ملتونو د مرستندویه هیت دفتر (یوناما) او د هغې د بشري حقونو څانګه د امنیت شورا ۲۰۴۱ (۲۰۱۲) پریکړه لیک له مخې واک لري چې:

*د ملکیانو وضعیت وڅاري ، د هغوی د خوندیتوب په موخه همغږي رامنځته کړي ، احتساب ته وده ورکړي او د بشر د اساسي آزادیو او بشري حقونو اړوند احکام چې د افغانستان اساسي قانون او نړیوالو میثاقونو کې چې افغانستان یې غړیتوب لري راغلي دي ، د بشپړ پلي کولو سره مرسته وکړي ، په ځانګړي ډول د هغو میثاقونو چې د هغوی له مخې ښځې د خپلو حقونو څخه په بشپړه توګه ګټه اخیستلی شي.*

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک ۲۰۴۱ ټینګار کوي چې د ښځو او نجونو حقونه خوندي او وده ورکړي او د لاندې ډول تاوتریخوالي او د سپکاوي څخه یې وژغوري:

۴۲- دغه پریکړه لیک منلې ده چې د جنیست د برابرۍ په اړه د شوي پرمختګ ، او د ترلاسه شوو موخو سربیره اړینه ده چې د ښځو او نجونو حقونه خوندي شي او دا یقیني کړي چې په افغانستان کې د ټولو ښځو او نجونو حقونه د تاوتریخوالي او سپکاوي څخه ، پرته له کوم توپیره د قانون له مساوي خوندیتوب څخه برخمن دي او ښځې په مساوي ډول عدالت ته لاسرسی ولري. سربیره پر دې دغه پریکړه لیک د ښځو او نجونو پر وړاندې توپیر او تاوتریخوالی په کلکه غندي.

۴۳- دغه پریکړه لیک د افغانستان د دولت ژمنتوب ته ښه راغلاست وایي ترڅو داسې یوه ستراتیژي جوړه کړي چې د هغې له مخې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون په بشپړه توګه پلی کړي ، او همدارنګه د تاوتریخوالي څخه د زیانمنو لپاره خدمات برابر کړي. همدا ډول یادونه کوي چې د ښځو د حقونو وده او خوندیتوب د سولې ، بیا راستنیدنې او پخلاینې ، نه بیلیدونکې برخې دي.

یوناما د خپل څلورو کاري ساحو له لارې د ښځو د حقونو ګڼو اړخونو باندې کار کوي او په ځانګړي ډول د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې او په عامه چارو کې د هغوی د ګډون د ونډې پیاوړتیا ته لومړیتوب ورکوي. په اتو ساحوي دفترونو کې د پرلپسې څارنې پر اساس یوناما د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي درې راپورونه خپاره کړي دي چې پکې پراخ زیانمنونکي دودونه او همدا ډول د دولت د هغو کړنو ارزونه کړې ده چې د هغوی له مخې د تاوتریخوالي څخه زیانمنو ته قانوني خوندیتوب ورکړل شوی دی.[1]

---

[1] چوپتیا تاوتریخوالی دی — په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی ختم کړئ.
(July 2009).http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/vaw-english.pdf
زیانمنونکي دودونه او په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون پلي کیدل.
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Publication/Harmful%20Traditional%20Practices_English.pdf
(December 2010).
په مخ کې اوږده پرته لار ، په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون پلي
کیدل http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/November%2023_UNAMA-OHCHR-Joint-Report-on
(November 2011).Implementation-of-EVAW-law_ENG.pdf
د ملګرو ملتونو د مرستندویه هیت دفتر (یوناما) راپور- په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون پلي کیدل

د ۲۰۱۱ م کال د نومبر په میاشت کې د یوناما او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنرۍ (او ایچ سی آر) دفتر په مخ کې اوږده پرته لار" تر عنوان لاندې یو راپور خپور کړ چې د ۲۰۱۰ کال د مارچ له میاشتې نه د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر تر میاشتې پورې د عدلي او قضایي ارګانونو په واسطه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون د پلي کولو په اړه موندنې وړاندې کړې.

## میتودولوژی

دا راپور د ۲۰۱۱ کال داکتوبر میاشتی څخه د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر پوری د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی وضعیت او د قضایی پروسی په مختلفو پړاوونو کی د ښځو په وړاندی تاوتریخوالی د راپورشویو قضیو په اړه د حکومت له لوری د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی دمنع د قانون د تطبیق څرنګوالی بیانوی. دیوناما دفتر د ښځو پروړاندی د تاوتریخوالی د پیښو د راپورولکولو ، ثبتولو ، څیړلو او عدلی تعقیبولو او همدارنګه په ۲۲ ولایتونو کی د څارنوالانو ، قاضیانو او د پولیسو افسرانو لخوا دښځو پر علیه د تاوتریخوالی دمنع د قانون د عملی کولو او د خشونت سره د مبارزی د ولایتی کمیسسونونو د کارونو د وضعیت په هکله احصائیوی اواساسی معلومات راغونډ کړیدی.[۲]

همدارنګه یوناما د ۲۰۰ نه زیات ملاقاتونه او مرکی د تاوتریخوالي د قربانی ښځو ، د هغوی د خپلوانو او په تاوتریخوالی تورنو کسانو ، د دولتی روغتونونو ډاکټرانو ، د ښځو چارو د ریاستونو رئیسانو او نمایندګانو ، د روغتیایې څانګو نمایندګانو ، د افغان ملی پولیسو او د جنایې څانګو مسئولینو ، د بشر د حقونوخپلواک کمیسون ، څارنوالانو ، د ابتدائی محکمو قاضیانو ، مدافع وکیلانو ، د حقوقی مرستو د ادارو نمایندګانو ، د غیردولتي ادارو ، د ملګرو ملتونو د ادارو او د ژورنالستانو سره کړي دي.

دا راپور د دی دعوه نه کوي چې د ښځو پروړاندی د تاوتریخوالی ټولي پیښې د اکتوبر ۲۰۱۱ نه ترسپتمبر ۲۰۱۲ پوری په بشپړه توګه ترپوښښ لاندی راولي. د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالي پیښې ترډیره حده پټې دي او څوک يې راپور نه ورکوي او هغه پیښې چې د قانون د تطبیقولو او قضایي ارګانونو او یا هغه پیښې چې د وخامت له نظره د عامه خلکو پاملرنه د رسنیو د لاری جلبوي ، د افغانستان په سطحه د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د ډیرو کمو پیښو نمایندګی کوی. یوناما پدی نظر دی چې سختو ، دوامدارو ، اوسیستماتکو معلوماتو راغونډولو ته ضرورت دی ترڅو د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د لاملونو ساحه ، ماهیت او اندازه معلومه شی او په ښه توګه د حل لاری چاری ورته پیدا شي.[۳]

## ***د معلوماتو په راغونډولو کې ستونزي***

سره لدې چې یوناما په دوامداره توګه د افغان چارواکو سره په تماس کې ده ؛ او له دوی سره د یوناما د ماموریت په اړه چې د بشری حقونو د سرغړونو څخه نظارت وکړي خبری کړي خو بیا هم په ځینو سیمو کې چارواکې د معلوماتو په شریکولو کې د دوو دلایلو له مخی غلي وو: ددی نظریي شتون چې که چیرته معلومات شریک شی نو د قانون د حاکیمت اداری پوری تړلی یو شخص د کړنو په اړه به قضاوت وشي. او د ښځو پر وړاندي د تاوتریخوالی د پیښود ثبتولو د منظم سیستم په ځانګړی توګه په هغو ادارو کې چې د ښځو پر وړاندي د تاوتریخوالي په پیښو کار کوي د پیښو د معیاری او سم مدیریت د سیستم نشتوالی ، چې په نتیجه کې د یوناما دفتر پدي ونه توانیدل چې د ثبت شوو پیښو یو جامع تصویر تر لاسه کړي ؛ او د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالي د

---

[۲] ۱۶ ولایتونه بدخشان، بادغیس، بامیان، دایکندی، فراه، غوول، جوزجان، کاپیسا، خوست، کنړ لغمان، ننګرهار، پکتیکا، پکتیا، پروان، او سمنګان دی.

[۳] دبشردحقونوخپلواک کمیسون دشمسی کال په اولو ۹ میاشتو(مارچ نه ترسپتمبر ۲۰۱۲) دښځوپروړاندی دتاوتریخوالی ۴۰۱۰ پیښی ثبت کړیدی. دبشردحقونوخپلواک کمیسون دښځوپروړاندی دتاوتریخوالی قضیو ثبتولو طریقه دومره فرق نه لری خو د ملی پولیسواو څارنوالی دثبت دطریقی سره ډیرورته والی نه لری. دبشردحقونوخپلواک کمیسون معلومات په لاندینی ادرس کې موجود دی

http://www.8am.af/index.php?option=com_content&view=article&id=28666:---28--&catid=1:title&Itemid=553

پیښو د تعقیبولو او د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون د تطبیق په اړه د مربوطه ادارو لکه د ښځو چارو د ریاست ، افغان ملی پولیس ، څارنوالي ، او محکمو جاج واخلی. ذکر شوی اداری دیوناما دفتر په راز راز سطحو کې کار کوی ، تر څو د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د پیښو راز راز طبقه بندي ، او د پیښو په ثبت او مدیریت کولو کې ستونزی د دی عمده دلایل دي. د ابتدایه محاکمو څخه د ځینو معلوماتو ترلاسه کول هم ناممکن وو او په داسي حالاتو کې یوناما د معلوماتو په دوهمه درجه منابعو تکیه کړی ده.

د ښځو په روړاندی دتاوتریخوالی هغه احصائیې چې دادارو نه ترلاسه شویدی اکثره پکښی مدنی او د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالي جرمونه یوځای دی د یو مناسب او په معیار برابرد قضایاوو د اداری سیستم نه پرته دا یو ستونزمن کاروو ،چې د مربوطه قضیې نتیجه تعقیب شی. د یوناما ارزیابی دا جوته کوی چې د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی پیښی تعقیبول د قضایې ارګانونو لخوا کله چې دا قضیې دیوی اداری نه بلی ته انتقال شی ضعیفی دي. دغه حالت د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د قربانیانو لپاره د حکومتی چارواکو له لوری د پراخو ، موثرو او کافی ځواب ویلو او د هغوی حقوقي ساتنی کې غڼه تشه منعکسوي.

د هغو ۲۲ ولایتونو لست چی یوناما د پولیسو ، څارنوالیو ، او محکمو څخه معلومات راټول کړی دی په لاندی ډول دی:

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پولیس | | بدخشان | بادغیس | بلخ | بامیان | دایکندی | فراه | فاریاب | غزنی | غور | هرات | جوزجان | کندهار | **کابل** | کاپیسا | خوست | کنر | لغمان | ننګرهار | نیمروز | **پکتیکا** | پکتیا | پروان | سمنګان | تخار | |
| څارنوالی | | بدخشان | بادغیس | بلخ | بامیان | دایکندی | فراه | فاریاب | غزنی | غور | هرات | جوزجان | **کندهار** | کابل | کاپیسا | خوست | کنر | لغمان | ننګرهار | **نیمروز** | پکتیکا | پکتیا | پروان | سمنګان | تخار | |
| محکمی | | بدخشان | بادغیس | بلخ | بامیان | دایکندی | فراه | فاریاب | غزنی | غور | هرات | جوزجان | **کندهار** | **کابل** | کاپیسا | خوست | کنر | لغمان | ننګرهار | نیمروز | پکتیکا | پکتیا | پروان | سمنګان | تخار | |

نوټ: دپه ګوته شویو ولایتونوکوم مالومات ندي ترلاسه شوي

## د راپور لنډيز

*ما پنځه مياشتې مخکې د انجيل ولسوالۍ د سباوا کلي کې د يو سړي سره واده وکړ. زما خاوند او خسر زه څو وارې پرته له کوم سببه وهلې يم. پولیسي بد چلند دې ته اړه کړم چې شکايت وکړم او ټولې هڅې مې په دې بيهوده ولاړې چې ځارنوال زما په عريضه سترګې پټې کړې او اخطار يې راکړ ترڅو له خپلې دعوې تيره شم او يا بند قبول کړم.*

-- يوه ۱۵ کلنه ميرمن جينۍ چې وهل او ټکول خوړلي ؤ او بيا وروسته د هرات په ولايت کې د ۲۰۱۲ کال د اګست په مياشت کې د جبري ځانسوزونې له امله مړه شوه [٤].

د ۲۰۰۹ کال د اګست په مياشت کې د افغانستان دولت د نورو تدابيرو په نيولو سره د ښځو د حقونو د خونديتوب او د قانون پر وړاندې د ښځو د برابرۍ څخه د ملاتړ په څرګندولو د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون د منځته راوړلو له لارې خپلې قانوني ژمنې ترسره کړې. [٥] په دغه تاريخي قانون کې د لومړي ځل لپاره په کم عمرۍ کې ودونه ، جبري ځان سوزونې او د جنسي تيري په شمول ۱۹ نور د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي کړنې جرم ګڼلی او د مرتکبينو لپاره يې مجازات وضع کړي دي.

د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون د دوراني بدلونونو پرمختګ د ۲۰۱۲ کال د جون په مياشت کې د توکيو د دوه اړخيزو مسؤليتونو کاري چوکاټ په تړون کې تقويت وموند ، کوم چې په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د پراخه شتون او په افغاني ټولنه کې د ښځو د حقونو په بيلابيلو پړاوونو کې د مخنيوي په نظريې ټينګار کوي. زيانمنونکي دودونه او همدارنګه په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی د ښځو د ټولنيز ژوند مخنيوی کوي چې د تصاميمو په نيولو او په سياسي غونډو کې يې د دوی د ګډون اوچتولو مخه ډب کړې ده.

په ټوليز ډول د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي پيښې چې يو شمير سازمانونو ته راپور شوی دی زياتې شوي دي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ۲۰۱۲ کال د مارچ له ۲۱ څخه د همدې کال د اکتوبر تر ۲۱ نېټې پورې دا ډول ۴۰۱۰ قضيې ثبتې کړې دي. د دې په پرتله دې کميسيون په ۲۰۱۱ ټول کال کې ۲۲۹۹ قضيې ثبتې کړي وي (د ۲۰۱۰ کال د مارچ له ۲۱ څخه د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۲۱ پورې). [٦] د راپور له مخې دغه زياتوالی ښايي له دې امله رامنځ ته شوي وي چې د مدني ټولنې او حکومت له خوا له ښځو سره د تاوتريخوالي په ضد عامه پوهاوي زيات شوي وي.

---

[٤] سعادت يوه ۱۵کلنه ميرمن جينۍ ده چې د پولیسي وهلو او ټکولو قرباني ده چې د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ په شپاړسمه نيټه ځانسوزونې ته اړه کړی شوې وه. هغه د درملنې لپاره د ترکيې هيواد ته يوړل شوه او په پای کې د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ په ۲۳ مه نيټه مړه شوه. د هغې قضيه د يوناما دفتر له خوا ځارل کيده.

[٥] د دولت نور تدابير يعنې د ۲۰۱۰ د جون په مياشت کې د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون د کميسيون ايجاد او تنظيم او د دې کميسيون د ولايتي څانګې جوړول ، په ۲۰۱۰ کال د مارچ په مياشت کې په لوی څارنوالۍ کې د ځانګړې رياست جوړول ، د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په مياشت کې د ښځو لپاره د امن کور لايحه جوړول ، د دوی لپاره د تقنيني مرستو برابرول ، د ۲۰۱۲ کال د جولای په مياشت کې د اداري فساد ختمولو په اړه د جمهور ريس د ۴۵ نمبر فرمان ، د افغان ملي پوليسو په دفترونو کې د جندر د څانګې جوړيدل او همدارنګه په مختلفو وزارتونو او رياستونو کې د جندر د څانګې تشکيل.

[٦] په مخ پرته اوږده لار ، په افغانستان کې د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون تطبيق: http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/November%2023_UNAMA-OHCHR-Joint-Report-on_Implementation-of-EVAW-law_ENG.pdf

د لوي څارنوالي دفترونو په ۲۲ ولایتونو[۷] کې ۱۵۳۸ د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیې ثبتې کړې دي. دغه شمیر د داسې قضیو په ثبت کې یو زیاتوالی څرګندوي که له هغه شمیر سره پرتله کړای شي چې د تیرې دورې په راپور کې ددغو قضیو شمیر په ۲۲ ولایتونو[۸] کې یوازې ۵۲۹ قضیو ته رسیدلي و. د دغې دورې له نیمایي څخه زیاتې قضیې د کابل (۶۷۰) او هرات (۳۳۳) له ولایتونو څخه وو.

د یوناما له خوا په ۱۶ ولایتونو کې چیرته چې په تفصیل سره د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون د پلي کیدو په اړه د پولیسو، څارنوالۍ او ابتداییه محکمو تفصیلي معلومات د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو اړوند راټول کړي، ټولې ۴۷۰ دوسیې د پولیسو او څارنوالۍ سره ثبت شوي چې د هغې له ډلې څخه ۱۶۳ پیښو کې څارنوالۍ اقامه دعوی کړې ده، چې ۱۰۰ دوسیو کې محکمو فیصلې صادرې کړي دي (۶۱ سلنه). د ۱۶۳ اقامه شوی قضیو له جملې څخه ۷۲ قضیی (۴۴ سلنه) د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون پر بنسټ ثبت شوی دی. البته د ۷۲ دوسیو له ډلې ۵۲ (۷۲ سلنه) یې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون له مخې فیصله شوي دي[۹]. دغه موندنی دا ښیی چې

د یوناما له خوا موندنې ښیي چې د تیرې دورې د راپور په پرتله د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون په تطبیق کې څارنوالانو او لومړنیو محکمو له خوا پرمختګ شوی دی څارنوالۍ د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي زیاتې قضیې ثبت کړي دي او ښاري محکمو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون پر اساس زیاتې فیصلې صادرې کړي دي. دغه یو ښه او د پام وړ پرمختګ دي. البته د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون له خوا چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۴۰۱۰ پیښې چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ او سپتمبر میاشتو ترمنځ کومې پیښې ثبت شوي دي، د عدلي جریان په وخت کې ډیرې کمې پیښې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون پر اساس حل او فصل شوي دي.

یوناما له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون له مخې د ناحقه وهلو او ټپي کولو جرمونه د تر ټولو زیات پیښیدونکي جرم په توګه پیژندل شوی دی، دغه راز د ناموس په نوم د وژنې په جرم کې هم زیاتوالی لیدل شوی دی. دغه راز په همدې موده کې څارنوالانو په غلطه توګه دې ته ادامه ورکړې چې ښځې او نجونې له کورونو څخه د تیښتې له امله چې زیاتره د تاوتریخوالي څخه د خلاصون لپاره ترسره کیږي تر عدلي تعقیب لاندې نیسي. ملي پولیسو داسې ۶۲ د تیښتې قضیې ثبتې کړي، څارنوالۍ ۳۱ او محکمو ۹ قضیې ثبتې کړي دي. د افغانستان د قوانینو یا د اسلامي شریعت پر بنسټ، له کور څخه تیښته کول جرم نه ګڼل کیږي، خو سره له دې هم د قانون تطبیق کوونکي چارواکي ښځې او نجونې د اخلاقي جرم په تور توقیف کوي او دوی د زنا د عمل د قصداً او یا دفریبي زنا په تورنیسي. د ۲۰۱۲ کال په سپتمبر کې د عدلیې وزیر، د ښځو چارو د وزیرې او د کورنیو چارو معین له خوا ددې عمل په ښکاره غندل د ښځو د حقونو د ملي او نړیوالو سازمانونو له خوا وستایل شول. دا ډول رسمي ویناوې ډیر ارزښت لري او کولای شي چې افغاني نجونې او ښځې له تاوتریخوالي څخه وژغوري خو دې ته اړتیا ده چې باید په بشپړ ډول عملي شي.[۱۰]

---

[۷] بامیان، دایکندی، کابل، پروان، کاپیسا، ننګرهار، کنړ، لغمان، بلخ، جوزجان، سمنګان، فریاب، تخار، بدخشان، خوست، پکتیا، پکتیکا، غزني، هرات، فراه، بادغیس، غور

[۸] په مخ پرته اوږده لار، په افغانستان کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون تطبیق:
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/November%2023_UNAMA-OHCHR-Joint-Report-on Implementation-of-EVAW-law_ENG.pdf

[۹]

همدارنګه راپور څرګندوي چې ملي پولیس او څارنوالي دې ته ادامه ورکوي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پیښو کې ، ددې پر ځای چې قانوني اجراآت ترسره کړي ډیرې قضیې د جدي جرمونو قضیې جرګې او شورا ته راجع کوي ترڅو یې حل او فصل کړي او یا لازمې مشورې ورکړي چې ددوی دا چلند د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي منع قانون ته زیات رسوي او یا هم د ډیر ځله د خطرناکو او ناوړه دودیزو عملونو او رواجونو د پیاوړتیا لامل ګرځي. راپورونو جوته کړې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ډیرې قضیې چې د دودیزه میکانیزمونو ته د حل په موخه سپارل شوی دي د دودیزه میکانیزم د پریکړو مشاهدې له مخې داسې فیصلې همیشه د محلي زورواکانو له خوا په محلي سطحه د مختلفو کړنلارو له مخې فیصلې د رسم او رواج ، د شریعي اصولو په بنسټ جې تعبیر او تشریح یې په هرځای کې جدا جدا شوی او د ځایي زورواکانو د تعلقاتو پر بنسټ یې بعضی د شریعت اصول او قانون سره په مغایرت کې واضع شوي ، فیصله شوي دي ، چې په نتیجه کې د ټولنې محرومه قشر یې ښځې او ماشومان تشکیلوي ، نوره هم پسې قرباني شوي دي. د مثال په ډول محکمه شاید یو کس د زنا بالجبر په تور په اوږده بند محکوم کړي ولې د دودیزه میکانیزم د فیصلی پر بنسټ شاید دغه تورن ته د زنا د فعل د قربانی سره د واده کولو او یا هم په بدو کې د بدل ورکولو فیصله وکړی.

یوناماومونډله چې دښځوپه وړاندې دتاوتریخوالي ډیرى قضیې چې دودیزومیکانیزمونوته سپارل شویدي ، څومنځګړیتوب وکړي ،پداسې ډول حل شوی چې دښځوچاروریاستونو ،ملي پولیساواویاڅارنوالۍ له دې پروسې څخه په مناسب ډول څارنه نده کړې چې په پایله کې ،چې کله ښځې دمنځګړودفیصلو وروسته کورنوته ستانې شوې ، ډیرځلې بیادتاوتریخوالي له ګواښ مخامخ شویدي .

یوناما پخپلو مشاهداتوکې داسې بیلګې موندلې دي چې دښځوپه وړاندې دتاوتریخوالي هغه مجرمین نه نیول کیږي چې له وسله والواوحکومت ضدمخالفینوسره تړاواوړیکي لري ،یاحکومتي ملشا ،اربکي ،افغان سیمه ایز پولیس اویاپه حکومت کې یاله حکومت څخه بهردنفوذ خاوندان وي اویاهغه کسان چې چارواکوته بډې ورکوي. یوناما لیدلې دي چې ملي پولیس په ځینوبرخوکې دمجرمینوپه وړاندې کمزوري دي اویادهغوپلوي کوي ځکه چې بډیې ترې اخلي یاهم دعدالت په پلې کولوکې بې پرې نه وي . دغه حالت چې دقانون دانفاذ دچارواکوله کم ضرفیتي سره یوځای شي ، پایلې یې پدې ختمیږي ،ترڅوپه ټول هیوادکې دښځوپه وړاندې دتاوتریخوالي مجرمین ډیر ځلې دجزاچې خلاصون اومعافیت مومي .

دپولیسوظرفیت مسله هم دښځوسره دتاوتریخوالي دقضیوپه څیړلوکې دیوخنډپه توګه ګڼل کیږي . ډیرې ښځې عدالت ته لدې امله هم لاس رسي نلري چې په پولیسو کې ښځینه کدرونه چې صلاحیت ولري نشته .

یوناما ومونډله چې له ښځو سره د د راپورونو په اړه یوه مفصله رسمي احصائیه لا تر اوسه نشته. په دې برسیره ، د معیارونو یو لست چې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخې د تیریو یو لست وي او د قانون د انفاذ له ادارو ، د ښځو د چارو د ریاستونونو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا په مشترک ډول ومنل شي نشته. دغه حالت د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ماهیت ، پراخوالی ، لاملونو ، خنډونو او پراخوالی په هکله ډیر ګواښونه رامنځ ته کوي چې کیدای شوای د چارو د حل لپاره یې ګټورې پایلې درلودلی.

یوناما ومونډله چې له ښځو سره د تاوتریخوالي د له منځه وړلو کمیسون ډیری ولایتي دفترونه د خپلو صلاحیتونو او دندو په اجرا کې لا اوس هم ستونزې لري او په کابل کې له مرکزي کمیسیون چې د ولایتي کمیسیونونو د کړنو څارنه کوي ، څخه نورو مرستو او د نظارت د یوه ښه میکانیزم ته اړتیا لري چې وکولای شي خپلې ورسپارل شوې دندې په ښه توګه تر سره کړي.

د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلي کولو په وړاندې رواني ننګونې د هیواد د ښځو لپاره ، د عمل د ملي پلان ۲۰۱۸-۲۰۰۸ (NAPWA) یو کلیدي عنصر جوړوي ، دا د افغانستان د قانون جوړونې په چوکاټ او قضایي سیستم د بیا

کتنې غړ کوي ، چې د ښځو لپاره د برابري او نه توپیر چې د افغانستان په اساسي قانون او د بشري حقونو په کنوانسیونونو کې ځای شوي ، تضمین کړي. په دې وروستیو کې ، د افغانستان حکومت د خپلو نړیوالو همکارانو په مرسته د ټوکیو د حساب ورکونې (TMAF) د دوه اړخیزه چوکاټ له لارې د ښځو د حقونو او د جندر د برابري د پلي کولو په هکله خپلې ژمنې بیا تایید کړي. د ټوکیو د حساب ورکونې دوه اړخیزه چوکاټ په پنځو مهمو سکتورونو کې چې موخه یې د زیاتې پراختیا د مرستې د چوکاټ په دننه کې په خپل ځان د یوه متکي افغانستان د پرمختګ او بهبود ملاتړ دی ، معیارونه په ګوته کړي دي. د افغان میرمنو لپاره د عمل د ملي پلان او د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون پلي کول د څو راتلونکو کلونو په ترڅ کې د بشري حقونو او د قانون د حاکمیت او حکومتداري د ښه کولو د یوې موخې د تر لاسه کولو په حیث د حکومت د کار د دوو کلیدي ساحو د شاخصونو په څیر پیژندل شوي.

د راپور موندنې دغه راز څرګندوي چې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په تطبیق کې د دې ډول پیښو د راپور ورکولو ، تحقیق کولو او ثبتولو په مراحلو کې ستونزې د عمده عواملو په څیر ګڼل کیږي. په ډیرو ولایتونو کې د ښځو د چارو ریاستونو ثابته کړي چې د تاوتریخوالي د قرباني ښځو لپاره یې اغیزناک میکانیزمونه برابر کړي څو هغوي خپل راپورونه ثبت کړي ، خو د ښځو لپاره په رسمي قضیایي موسساتو کې عدالت ته لاس رسي د ستونزې په څیر په ځای پاتې دی.

په پایله کې ، د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلي کولو په برخه کې ښه والی ، او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو په شمیر کې ټیټوالي د ښې ساتنې لپاره لارې چارې برابرې کړي او د ښځو حقونو ته یې وده ورکړي او په ټولنه کې یې د هغوي مهم نقش او فعال ګډون او هغه هڅې چې پر مټ یې په هیواد کې سوله ، امنیت او سوکالي تر لاسه کیدای شي ، غښتلې کړي.

## مهمې سپارښتنې

### افغان حکومت ته

- په لوړه کچه ، د ولسمشر په ګډون ، باید پدې باندې خپل ټینګارته دوام ورکړي چې دښځودحقونو پرمختګ اوساتنه دسولې اوبیا پخلاینې‌په د بهیر یوه مهمه برخه اوله لومړیتوبونو څخه او د هیواد د سیاسي ، اقتصادي او امنیتي ستراتیژیو د یوې مرکزي ستنې په توګه وګڼل شي .
- دنړیوالو مشارکینوسره په تړاوکې ،دټوکیوداعلامې اوجمهوري ریاست د۴۵ ګڼې فرمان سره سم ، چې دجندردمساوي توب اوښځودپیاوړتیاپه موخه اوښځوپه علیه دتاوتریخوالي دمنع دقانون داغیزمن پلي کولو لپاره ځانګړی شویدی ،دڅارنې اونظارت دوه اخیزه چوکاټ ته وده ورکړی شي .

### د ښځو د چارو وزارت او دښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوی لپاره عالي کمیسیون ته

- د ولسوالیو په کچه د ارجاعي میکانیزمونو طرح او پلي کول ، د استازي د دفتر له خوا د هغوي د یوه غړي په واسطه د دغو ارجاعی میکانیزمونو همغږی کول ترڅو د ښځو پر علیه د خشوت د منع د قانون د ۱۶ مادې په اساس د روغتیایي پاملرنې ، حقوقي مرستې ، رواني- ټولنیز ملاتړ ، سرپناه په هکله د خدمت برابرولو یا قانون پلي کوونکو ادارو ته د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قربانیانو ارجاع او تعقیب په موخه اسانتیاوې برابرې کړي.

- دښځوچاروو‌زارت بایددکورنیوچارو ،عدلیي وزارتونواولوی څاروال له دفترسره همغږه شي ترڅو معیاري صنف بندي اوګټیګوری رامنځته کړي چې دټولو قانون پلي کوونکې اداری اوښځودچارو ډیپارټمنټونه وکولی شي د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو بڼو د دوسیو او د هغو جرمونو په شمول چې د ښځو پر علیه د منع د قانون لاندې جرم نه شمیرل کیږي ، د بیلګې په ډول د ناموس په نوم وژني او اخلاقي جرمونه د هغو ملکي جرمونو څخه کوم چې ښځو ته منسوب کیږي ، جوړ کړي ،په ګډه وکارول شي.
- د ښځو د چاروو‌زارت ، د کورنیو چارو او عدلیې وزراتونو او لوی څارنوالیې سره په همغږۍ کې داسې معیاري صنف بندۍ اوکټګوري ګانې جوړې کړي چې د قانون د پلي کولو د ټولو ادارو او د ښځو د چارو د ریاست له خوا د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو بڼو د دوسیو او د هغو جرمونو په شمول چې د ښځو پر علیه د منع د قانون لاندې جرم نه شمیرل کیږي ، د بیلګې په ډول د ناموس په نوم وژني او اخلاقي جرمونه د هغو ملکي جرمونو څخه کوم چې ښځو ته منسوب کیږي ، په ګډه وکارول شي.

## سترې محکمې ته

- عمومي جنایي څانګې او د پلټنې ریاست ته لارښونه وکړي چې په ځانګړي ډول د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د دوسیو او د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په هکله د محکمې له خوا د مناسبې کارونې څار وکړي.

## د لوي څارنوال دفتر ته

- دجزا عمومي ریاست او د لوي څارنوالی دفتر او نوری اړوندي څانګو دڅارنې څخه ډاډ حاصل شي چې د تعقیب څانګې څنګه د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي قانون پلي کوي.
- د مناسبو سرچینو او وړتیا لرونکو کارکوونکو له لارې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د دوسیو د تعقیب په موخه د تعقیب په ولایتي دفترونو یا واحدونو کې د کمیسیونو د جوړولو او ملاتړ دوام.
- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په هکله د ټولو ځانګړو واحدونو او د تعقیب د څانګو لپاره د یوه مرکزي ډیټابیس جوړول چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو دوسیو د تعقیب د څانګو سره تړلې وي.

## د کورنیو چارو وزارت ته

- د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په مطابقت کې د قربانیانو د اړتیاوو د ځوابولو په برخه کې د پولیسو نقش او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی په هکله د پولیسو د اساسي روزنو په چوکاټ کی د حساسیت ځایول.
- د پولیسو د جنایي څیړنو د څانګې او د کورني غبرګون د واحد لپاره د لارښودونو جوړول ، د هغو جرمونو د نمونو وضاحت کوم چې باید وڅیړل شي ، او د تعقیب په موخه د هغوي وړاندې کول او هغه دوسیی چې ښایي منځګړیتوب یې د پولیسو له خوا ترسره شي ، او هغه ټولې قضیې چې منځګړیتوب یې د پولیسو له خوا ترسره شوي یا د پولیسو له خوا د منځګړیتوب په موخه ارجاع شوی ، په مناسب ډول ثبت او په رسمي توګه مستند شی ، ډاډ حاصل شي.
- ډاډ حاصل شي چې ښځینه پولیس افسرانو ته مسلکی دندې وسپارل شوي او د هغوي د ترفیع لپاره مساوي پاملرنه شوي.

- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د دوسیو د تعقیب او مناسب ثبت کولو لپاره موثر میکانیزم رامنځ ته شي ، او د قربانیانو د ساتنې په هکله چې کله هغوي بیرته خپلو کورنیو او ټولنو ته ستانیږی ډاډ حاصل شي.
- د جنایي څیړنو د ریاست ، د کورني غبرګون د واحد او د پولیسو د نورو اړوندو ریاستونو د غبرګونونو سره یو ځای د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو دوسیو په هکله د یوه مرکزي ډیټابیس جوړول.

## نړیوالودونرانوته

- دټوکیوداعلامیې د پلې کولو لپاره ،ددجنډرمساواتو ،دښځودپیاوړتیا ،دښځوپه علیه دتاوتریخوالي دمنع قانون او دګډ نظارت کونکي دچوکاټ په جوړولو کې دحکومت دژمنو دپلې کولو څخه ملاتړ. ترڅو پدغه ساحوکې دپرمختګ داقداماتوڅارنه وکړي.
- دافغانستان له حکومت نه ملاترترڅود ۲۰۱۸-۲۰۰۸ دښځو لپاره دملي اقداماتوپلان (این ای پي ډبلیو اې) اوپه ځانګړې توګه دښځوپه علیه دتاوتریخوالي دمنع قانون دپلې کولولپاره ملي ستراتیژی او ملي لومړیتوبونودپروګرام (قانون اوعدالت دټولولپاره ) اودضرفیت دلوړونې په برخه کې چې دښځو دملي اقداماتوپلان ګړندي پلي کولو اقدام وشي .